**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي تېوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په تړاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او د شکایتونو اورېدو وزارت**

**د اطلاعاتو او له رسنیو سره د اړیکو آمریت**

**شیخ محمد خالد: اسلامي امارت له نړۍ سره د منل شویو اصولو په رڼا کې د تعامل غوښتونکی دی**

**۲۶ ذوالحجه ۱۴۳۳ هـ ق**

شیخ محمد خالد الحنفي، د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او د شکایتونو اورېدو وزارت سرپرست وزیر، د میدان وردګو ولایت له علماؤ او اوسېدونکو سره د لیدنې په موخه دې ولایت ته سفر وکړ. نوموړي په یوه ستره ولسي غونډه کې، چې د دې ولایت والي، ولایتي رئیسانو، علماؤ، مخورو او اوسېدونکو هم پکې ګډون درلوده، وویل: دښمنان د تبلیغاتو پر لار اچولو سره په دې هڅه کې دي چې د محتسبینو کړنې غیرواقعي وښيي، حال دا چې له هغوی څخه د ځورولو او له قانون څخه د سرغړونې هېڅ یوه پېښه ثبت شوې نه ده.

د امربالمعروف سرپرست وزیر په دې ناسته کې وویل: په تېرو ۲۰ کلونو کې، اشغالګرو زمونږ خویندې بې حجابۍ ته هڅولي او هغوی یې د آزادۍ په نوم خلکو ته ښکاره کړې دي، په داسې حال کې چې رېښتینې آزادي د اسلامي حجاب مراعات کول دي.

شیخ محمد خالد وویل: دې وزارت په ۳۴ ولایتونو کې جید علمای کرام د محتسب په توګه ګومارلي دي او دښمنان په دې هڅه کې دي چې په خپلو تبلیغاتو سره د محتسبینو کړنې تر اغېز لاندې راولي. حال دا چې په وروستیو څو میاشتو کې د محتسبینو له خوا د امر بالمعروف وزارت له پالیسۍ څخه د سرغړنې هیڅ کوم مورد ثبت شوی نه دی.

د امر بالمعروف وزارت سرپرست په دولتي چارواکو غږ وکړ چې د امیرالمؤمنین فرمانونه عملي او په شخصي او غیر اړینو کارونو کې د دولت بودجې، چې بیت المال دی، له لګولو څخه ډډه وکړي.

د امر بالمعروف وزارت دې چارواکي وویل: اوس د ظلم او له درېځ څخه د ناوړه ګټه اخیستنې وخت پای ته رسېدلی دی. د خلکو د شکایتونو ته د رسېدنې لپاره د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او د شکایتونو اورېدو وزارت په چوکاټ کې د شکایتونو د اورېدلو معینیت په همدې موخه منځته راوړل شوی او په همدې برخه کې فعالیت ترسره کوي. هغوی بشپړ صلاحیت لري تر څو په پوره ناپېیلتوب سره د خلکو شکایتو ته رسېدنه وکړي. څوک چې د اسلامي امارت له نوم څخه ناوړه ګټه اخلي، که په هر درېځ او مقام کې وي، هغه به د قانوني تعقیب لاندې ونیول شي.

د امر بالمعروف وزارت سرپرست محتسبینو ته سپارښتنه وکړه چې د خلکو ذهنیت جوړونه د خپلو چارو لومړیتوب وګرځوي او په دې لار کې په ډېر احتیاط سره ګامونه اوچت او همدا رنګه، په خپلو کارونو کې اعتدال او منځلاریتوب غوره کړي. نوموړي ټینګار وکړ

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

چې د امر بالمعروف هیڅ چارواکی د وګړو د خصوصي حریم د پلټلو او پر هغوی باندې په جبر او زور سره د دې وزارت د فرمانونو د پلي کولو اجازه نه لري، ځکه چې د منکراتو د له منځه وړلو ټولو مواردو یادونه د دې وزارت په لایحو کې شوې ده.

د امر بالمعروف وزارت سرپرست له ټولو مجاهدینو څخه غوښتنه وکړه چې خپل صورت او سیرت له سنتو سره برابر کړي او هغه مجاهدین به، چې ظاهري وینبتان یې د سنتو خلاف وي، په خپلو اړونده وزارتونو کې ثبت نه شي او دا حکم په ټولو نظامي ارګانونو کې د پلي کېدو وړ دی.

د امر بالمعروف وزیر په صراحت سره محتسبینو ته لارښوونه وکړه چې په هغه چارو کې دې له مداخلې څخه په کلکه ډډه وکړي چې په دوی پورې اړونده نه وي او خپلې چارې دې د الله ﷻ او رسول ﷺ د قانون له مخې پر مخ بوځي.

شیخ خالد د محتسبینو د کاري پرمختګ ستاینه وکړه او ویې ویل چې د دوی د شپه او ورځ هلو ځلو له برکته اوس زمونږ خویندو په ښارونو کې ۹۹ سلنه شرعي حجاب مراعت کړی او د پاتې ۱ سلنې د اصلاح لپاره یې فعالیتونه ادامه لري.

د امر بالمعروف وزارت سرپرست وویل: اسلامي امارت له نړۍ سره د متقابل درناوي پر بنسټ تعامل غواړي، نه په هغه ډول چې د نړۍ ځینې ملتونه یې غوښتونکي دي. د امر بالمعروف دې چارواکي له ټولو دولتي اورګانونو، په ځانګړې توګه د دې ولایت والي، څخه غوښتنه وکړه چې د شرعي حکمونو د پلي کولو په برخه کې له محتسبینو سره مرسته وکړي، ځکه چې د ټولنې په کچه د امر بالمعروف او نهی عن منکر پلي کول د شهیدانو له ارمانو څخه دي. په دې ناسته کې د میدان وردګو ولایت والي مولوي محمد آمین عمري تر خپل واک لاندې اورګانونو کې د امر بالمعروف وزارت د فرمانونو د پلي کولو ډاډ ورکړ او ټینګار یې وکړ چې د نظامي منسوبینو صورت او سیرت به له سنتو سره برابر کړي.

دا ناسته د شهیدانو روح ته په دعا او د دې ولایت د والي له خوا د خیر په دعا پای ته ورسېده.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.